DAILY اراده

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

سال تاسیس ۱۳۷۶ هـ ش

سال چهارم شماره ۳۲
شماره مسلسل ۳۹۱
دوشنبه ۲۰ دلو ۱۳۸۲ هـ ش
۱۷ ذوالحجه ۱۴۲۴ هـ ق
9 February, 2004

دسیالو دلو ترمنځ جګړه پای ته ورسیده

دبدخشان ولایت په ارګو ولسوالۍ کې دسیالو وسله والو ډلو ترمنځ په نښتو کې لږ تر لږه (۲۵) کسان مړه او ځلوېښت نور ټپیان شوی دی رپوټونه وایی چې جګړه دتیرې پنجشنبې په ورځ دارګو ولسوالۍ مشر ته دوفادارو ځواکونو او دمقامي ملیشې دیو ځایی قوماندان دځواکونو ترمنځ پیل شوی وه.

ویل شوی دی چې جګړه پرون هم روانه وه او له کبله یې په سلګونو خلك بې کوره شوي دي. دغه سیمه داسلامی جمعیت ګوند مشر برهان الدین ربانی دپلویانو تر نفوذ لاندې ده.

دبدخشان ولایت دامنیی قوماندان سیداکبر سیدي ویلی دی چې دوی یو پلاوی دپیښې دځیرني لپاره سیمې ته لیږلي خو دجګړې یوې غاړې دغه پلاوي ته ویلی وو تر څو چې دارګو ولسوالۍ په پولیسو او نورو اداري کدرونو کې بدلون رانشي دغه شخړه به دوام ولري. دبدخشان ولایت چارواکو ویلی چې اوس دکندز ولایت دشپږم نمبر قول اردو له قوماندانۍ څخه یو شمیر ځواکونه دجګړې کوونکو ډلو دبې وسلې کولو لپاره سیمې ته هم رسیدلی نوموړی جګړه پرون هغه وخت پای ته ورسیده چې ددفاع وزارت یو واکمن پلاوی دجګړې سمې ته ورسید.

په سلګونو خلك بې کوره شویدي

د مخدره موادو په ضد نړیوال کنفرانس خپل کار ته دوام ورکوي

په کابل کې هغه نړیوال کنفرانس روان دی چې غواړي په دې هیواد کې دهیروینو دتولید او قاچاق مخنیوی وکړي په کنفرانس کې چارواکو وویل چې تیر کال په افغانستان کې داپینو تولید دارویا د لګښت په سلو کې (۹۰) برخې جوړوي چارواکی ویره لري چې له تریاکو نه په لاس راغلی پیسې به القاعده او نورو تروریستی ډلو سره مرسته وکړي. دامهال دافغانانو په سلو کې اوه برخې دتریاکو په تولید او قاچاق کې برخه لري.

په جوړ شوی کنفرانس کې یو چارواکی دا هم په ډاګه کړه چې چیرې دافغانستان د دنشیې موادو ناقانونه کاروبار ونه درول شي نو ټبایی افغانستان به له یو کمزوری هیواد څخه دنشې موادو په مرکز بدل شي.

تاکل شوې ده چې برتانیه به دنیشې موادو دمخنیوی لپاره (۷۰) میلیونه پونډ افغانستان ته ورکړي چې په مرسته یې کروندګر دنورو توکو کرکیلی ته وهڅوی خو متحده ایالات بیا دسخت قانون له مخې دتریاکو په له منځه وړلو باندې ټینګار کوي. پداسې حال کې ټبایی دافغانستان حکومت د نوو ژمنو په رڼا کې سږ کال دتریاکو پر ضد نوې جګړه پیل کړي. پداسې حال کې چې دهیواد په سهیلی سیمو کې دتریاکو کرل لاله وړاندې سرته رسیدلې ځکه ځینې داسې باور کوي چې دا کمپاین ډیر ناوخته دی. دغه دوه ورځینې نړیوال کنفرانس دافغانستان ددولت له خوا رابلل شوی دی.

کنفرانس کشور های کمک کننده به افغانستان درماه حمل سال آینده تدویر می یابد

آقای اشرف غنی احمدزی وزیر مالیه گفت: کنفرانس کشورهای کمک کننده به افغانستان به تاریخ دهم و یازده هم ماه حمل سال آینده تدویر می یابد. وزیر مالیه این مطالب را در حاشیه کنفرانس هفت کشور بزرگ صنعتی جهان در ایالت فلوریدای امریکا اظهار نمود، آقای احمدزی افزود درین کنفرانس که احتمالاً در شهر برلین آلمان تدویر خواهد یافت در مورد نیازهای هفت سال آینده افغانستان بحث و گفتگو خواهد شد. اشرف غنی احمدزی همچنان گفت افغانستان بخاطر بازسازی در حدود ۲۵ ملیارد دالر ضرورت دارد.

د ډلوی او ببنوکی خدای په نامه
سرمقاله

وسله وال مسوولین د قانون په تطبیق کې خپلې کښې له لاسه ورکوي

زمونږ ټولنه که څه هم د اوږدو کلونو او لسیزو په جریان کې له جګړو او نا ارامیو سره مخامخ شوی وه خو هیڅ وخت بې قانونه پاتې شوی نه ده دا چې د وخت په شرایطو کې د قوانینو تطبیقې بڼه ډیره کمزوری وه د راز راز اداری او ټولنیزو فسادونو او ناروا وو د رازیږیدو لپاره یې زمینه باربره کړی وه.

مونږ اوس پداسې وخت او شرایط کې بیا د بل نوی اساسی قانون څېړنتنان شوي یو چې حالاتو او شرایطو د پرون په پرتله زیات توپیر پیداکړی دی او اونس هم تر پخوا زیات له مرکزی دولتی واکمنانو څخه د قوانینو د تطبیق په برخه کې د زیات کار هڅو او څارلو غوښتنه کوي. خو باید ووایو چې له پرون څخه راپاتې نیمګړتیاوی او ناخوالی د اوس په شیبو کې لاړیاتی شوی دی قانون تر پښو لاندی کیږی او د خپلو اقتصادی بنسټونو د لاپیاورتیا لپاره د خیټو مسوولینو له خوا اګاهانه ګامونه پورته کیږی او په نتیجه کې زمونږ اوسنی په پښو نوی ولاړه ټولنه له خپل پیل شوی حرکت څخه وروسته پاتې کوي.

همدا اوس ځنی داسی مسوولین هم شته چې د بیلابیلو اړیکو له مخې یې په خپلو خپلو ادارو کې غیر مسلکی کسان د خپلو نیمګړتیاوو او نورو ملحوظاتو په خاطر تاکلی دی چې د سرغړونو په صورت کې یو په بل باندی لاس نیسی او د قانون د نه تطبیق څخه پروا نشی ساتلی.

مونږ اوس د تاریخی حساسو شیبو په دننه کې رغنده او جوړوونکی ګامونه اخلو نو د خپل نوی پیل شوی حرکت د بری او خوځښت په لاره کې د وړاندی تګ لپاره لازمه ده چې د هیواد د مرکزی اداری له خوا د ولایتونو په سطحه د تاکل شوو وسله مسوولینو په برخه کې یو نوی نظر وشي او هغه کسان په کار وګمارل شي چې وسله وال زور ونه لري بلکې د وسله وال زور په ځای په خپل اهلیت او مسلکی توب باندی تکیه ولري هغه کسان چې په وسله وال ګواښ او زور سره د دولت د مسوولی خوکی دنده پرمخ بیایی هیڅوخت نشی کولای چې قانون ته درناوی ولري او د قانون په چوکاټ کې له خپل اولس سره قانونی چلند وکړي.

او همدا وجه ده چې زمونږ په ولایتونو او ولسوالیو کې ځنی مسوولین لاتر اوسه پورې د هیواد او خلکو په وړاندی خپل وجدانی مسوولیت په پام کې نه نیسی بلکې په راز راز طریقو د خپلو جیبونو د ډکولو لپاره هڅې کوي.

۴مخ

د افغانستان په شمال کې دناټو مشری په غاړه اخلو

دبریتانیی ددفاع وزیر ویلی دی هیواد یې چمتو دی چې دافغانستان په شمال کې دناټو په مشری دسوله ساتو خواکونو مشری په غاړه واخلی. جیسپیون دغه خبره په مونشن کې نړیوال امنیتی کنفرانس ته په خپله وینا کې کړې ده. چارواکی ویلی چې برتانیه به دافغانستان په شمالی پنځو شپږو ښارونو کې دسوله ساتو خواکونو مشري په غاړه واخلی.

بریتانیی دغه وړاندیز پداسې حال کې کړې چې دبدخشان په ولایت کې دسیالو ډلو ترمنځ دجګړو له کبله په دریو ورځو کې د۲۵ کسانو دمړینې راپورونه ورکړل شوي دي. دبرتانیی په شمول دناټو ځینو غړو هیوادونو ورمه ورځ افغانستان ته دنورو خواکونو داستولو وړاندیز وکړ چې دافغانستان دانتقالی دولت دمشر حامد کرزی له خوایې هر کلی شوی دی.

ناتو به قاچاقچیان مواد مخدر اجازه میدهد

وزیر دفاع روسیه می گوید ناتو به قاچاق چیان مواد مخدر افغان اجازه میدهد تا روسیه و متحدین آسیای مرکزی آن را تهدید کنند. سرگی ایوانوف وزیر دفاع روسیه روز شنبه در یک کنفرانس امنیت بین المللی در مونشن گفت ضرورت حفظ وفاداری جنگسالاران افغان را درک می کند اما نادیده گرفتن دخالت آنها در قاچاق بین المللی مواد مخدر تهدید جدی را به امنیت روسیه و سایر دول عضو اتحادیه کشور های مستقل مشترک المنافع متوجه ساخته است. ایوانوف گفت: متوقف ساختن قاچاق مواد مخدر باید یک اولویت بین المللی باشد. وی پیشنهاد کرد که ناتو با روسیه و متحدین آن در امحای قاچاق مواد مخدر همکاری نمائید.

بخاطر سهولت درثبت نام رای دهندگان

بادر نظر داشت از دحام ترافیک در شهر کابل وبخاطر فراهم ساختن سهولت در ثبت نام خانم ها، شاروالی کابل در نظر دارد بروز های سه شنبه، چهار شنبه و پنج شنبه که مصادف به ۲۱، ۲۲، و ۲۳ دلو میباشد بس های دولتی را در سراسر این شهر به انتقال خانم ها تا محلات ثبت نام توظیف نماید.

بروز سه شنبه ۲۱ دلو دریک تعداد نواحی شهر به بس ها وظیفه داده شده است تا خانم ها را به لیسه انصاری و موسسه تربیه معلم سید جمال الدین افغانی جهت ثبت نام انتقال دهند. بروز پجشنبه ۲۳ دلو خانم ها می توانند با استفاده از چنین بس ها به لیسه بی بی سروری سنگری، کودکستان مکروریان و لیسه آمنه فدوی رفته ثبت نام کنند.

آخرین ارقام از ثبت نام شدگان نشان میدهد که تاکنون ۷۲۶۵۹۱ افغان کارت های اشتراک در انتخابات را اخذ کرده اند سهم مردان درین رقم ۵۶۷۳۵۲ نفر وسهم زنان به ۱۵۹۲۳۹ نفر میرسد.

قطعه خاص پولیس زنان ایجاد می شود

وزارت امور داخله روز جمعه گذشته اولین واحد پولیس را که مرکب از ۲۶ خانم می باشد در تشکیل آن وزارت ایجاد کرد.

از زمان آغاز ثبت نام رای دهندگان، وزارت داخله یک واحد پولیس را که متشکل از افسران متجرب ومسلکی است برای تأمین امنیت چنین مراکز تأسیس کرده است.

از آنجاییکه برای پولیس مرد این کار مشکل وحتی ناممکن بود که زنان ثبت نام کننده را تلاشی کند. در بعضی مناطق معلمین اناث داوطلب شدند تا کار تلاشی زنان ثبت نام کننده را انجام دهند. اکنون در نظر است در هر محل ثبت نام زنان در کابل دو پولیس زن چنین کاری را انجام دهند.

برای بهبود این کار اکنون هیئتی متشکل از نمایندگان یونما، UNDP و UNOPS ایجاد گردیده تا در باره تأسیس قطعه پولیس از میان زنان با وزارت امور داخله تبادل نظر نماید. نمایندگان این ارگان ها با حمایت ایالات متحده امریکا کورس آموزشی ای را برای 26 زن پولیس سازمان خواهند داد که در آن قبل از شروع کار دروس تکتیکی پولیس و طرز کار در محلات ثبت نام تدریس خواهد شد.

آی. او. ایم لوازم زمستانی توزیع میکند

در حدود هشت هزار خانواده آسیب پذیر که درشمال غرب وشمال افغانستان بودوباش دارند بخاطرنجات از خطر سرمای زمستان از جانب IOM کمک میشوند. آنها موادی از قبیل خیمه، کمپل، ترپال ولوازم زمستانی شامل پاپوش، لباس زمستانی، بشکه های انتقال ونگهداری آب، صابون وپلاستیک دریافت میدارند. ص۴

برنامه خلع سلاح در مزار شریف آغاز شده است



به دنبال جمع آوری سلاح و ملکی سازی در ولایات کندز و پکتیا در شمال شرق و جنوب کشور، روز شنبه روند "جمع آوری سلاح و ملکی سازی" یا دی، دی، آر، در ولایت بلخ آغاز شد و طی آن دو هزار شبه نظامیان قول اردو های شماره ۷ و ۸ شامل این برنامه، شناسایی شدند. ص۴

چرا تولید و قاچاق مواد مخدر محدود نشده است

رسول

با وجود سرمایه گذاری های بزرگ از طرف جامعه بین المللی بخاطر منع زرع کوکنار و قاچاق تریاک، زرع کوکنار، در افغانستان طی دوسال اخیر توسعه یافته و بر قاچاق آن نیز افزود گردیده است.

در سال ۲۰۰۳ میلادی در افغانستان تقریباً ۳۴۰۰ تن تریاک تولید شده که این رقم تقریباً ۷۵ فیصد مقدار مجموعی تریاک جهان را تشکیل میدهد.

درین سال در مناطقی مردم به زرع تریاک دست زدند که قبلاً با آن آشنایی هم نداشتند.

طی سال مذکور مجموعاً دهقانان افغانستان که به زرع تریاک پرداخته بودند ۲,۱ میلیارد دالر امریکایی بدست آوردند اما بیشتر پول را ازاین مدرک قاچاقبران صاحب شدند.

پولیکه از ین مدرک بدست قاچاقبران رسیده میلیاردها دالر امریکایی میباشد.

در سال آینده تولیدات تریاک شاید بیشتر از ان باشد که در سال پار بدست آمده بود زیرا کشت تریاک توسعه یافته و در ولایاتیکه تا سالهای گذشته حتی کشت تریاک را بلد نبودند نیز صد ها جریب زمین تریاک کشت شده است.

قاچاقبران تریاک اکثراً از حمایه اشخاص با نفوذ برخوردار اند.

دولت انتقالی اسلامی افغانستان نه تنها در منع کشت کوکنار و قاچاق مواد مخدر توفیق نیافته بلکه در جمع آوری اسلحه که ممد قاچاق تریاک و منع اعمال غیر قانونی دیگر در افغانستان انجام دهند میباشد، کارهای درخور توجه را نتوانسته است.

مردم هنوز هم در دهات دور و نزدیک همهٔ ولایات اسلحه بدست دارند، اسلحه یی که سه دهه است وارد کشور شده و بدست مردم افتاده است، با این سلاحها می خواهند برتر از دیگران باشند، خوبتر از سایر هموطنان زنده گی کنند. دیگر برای مردم عادی چیزی باقی نمانده تا زنده گی پر زرق و برق تفنگداران را تأمین کنند، همین اسلحه و قاچاق تریاک است که باید زنده گی آنان را رزق و برق بخشد، بدون تردید اسلحه حامی و وسیله قاچاق، رشوت، اختلاس و غصب دارایی های عامه در سرتاسر افغانستان است دهقان در ساحهٔ اسلحه با آرامش خاطر کوکنار زرع میکند، از فروش آن بمراتب بیشتر از زرع دیگر حبوبات نفع می برد بعداً مربوط می شود به تفنگدارن محلی که چگونه در سایه اسلحه آنرا قاچاق می کنند و پول های کلان را از قاچاقبران تصاحب مینمایند.

نابلد

هغه وخت به امن راځي چې وسله ټوله شي

د بن له پریکړې وروسته د ټولو افغانانو هیله داوه چې په هیواد کې به د طالبانو تر واکمنۍ وروسته د یو خپلواک متحکم مرکزي دولت تر سیوري لاندې د هیواد په ټولو سیموکې پوره امن او امنیت رامنځته او د یوه سوله ییز ارام او هوسا ژوندانه د رامنځته کولو لپاره به ډاډه ګامونه واخیستل شي تر هر چا زیات په پردیو هیوادونو کې زموږ مهاجر افغانان چې په ډیرو تکلیفونو سره ژوند شپې ورځې تیروی د خپل هیواد غیړې ته د راتګ لپاره ډیر ټرې وو که څه هم د موقتي اداري له پیل څخه تر اوسه پورې له ګاونډي هیواد پاکستان او ایران څخه د ملګرو ملتو د ځانګړې مرستې او هڅو له امله ډیرې کورنۍ د تیرو کلونو په بهیر کې د هیواد غیړې ته راستنې شوی او لاتر اوسه هم دا لړۍ کله تنده او کله ورو روانه ده خو دغو راغلو هیواوالو د هیواد په دننه کې لاتر اوسه پورې د ژوندانه دتیرولو لپاره لازم شرایط ونه لیدل د راستنو شوو کډوالو چې د هیواد په دننه کې ناسم شرایط ولیدل او زیاتره یې په ستنه بیرته لاړې او ځینې یې لا دلته په اوسیدو باندې پښیمانه دی لازمه خو داوه چې پدې موده کې داسې د استوګنې شرایط ورته برابره شوی وای چې زموږ په بهر کې مهاجر هیوادوال هم د هیواد غیړې ته راستانه شوی وای. د ایران د بم په ښار کې زموږ میشت هیوادوال به هم راغلی وای د کومو چې ۱۶۰۰ تنه د زلزلې په ټکان کې مړه شول او ۴۰۰ تنه یې ټپیان شول همدا اوس څه د پاسه ۲۸۰تنه افغانان د ناورو د جمهوریت په یوه کمپ کې چې له استرالیا څخه ۲۱۰۰Km لیرې دی استرالیا ته د پناه غوښتنې او تګ په جرم توقیف شوی دی چې ۴۰ تنو یې د غذا د نه خوړلو اعتصاب کړی وخپلې شونډې یې ګنډلې وی او صحي حالت یې د ډاکټرانو له خولې ډیر خراب ښودل شوي و. خوسره لدې یې د استرالیا هیواد د پناه غوښتنه نه منله ان چې د سترګو د ګنډلو لپاره یې ملا ټرلې وه. پوښتنه داده چې ولې زموږ افغانان ځوانان له مشقت او کړاو څخه ډکې شپې په خپلو ځانونو باندې راولي خلك د خپل ګران هیواد غیړې ته راځي او زموږ افغانان له خپل وطن څخه تبنتي او د پناه غوښتنې لپاره په اعتصابونو لاس پورې کوي.

د افغانان به هغه وخت د وطن غیړې ته راشي چې دلته امن وي وسله ټوله وي او د دولت د رئیس د وینا له مخې تر څو چې وسلې ټولې نشي امن نه راځي او تر څو چې امن رانشي زموږ افغانان به په ټوله نړۍ کې خواره واره او در په در وي او له خپل هیواد او هیوادوالو څخه به لیرې تبنتي خو د وسلو ټولونه د ټینګې ارادې او پیاوړې عزم له مخې سرته رسیدلای شي که چیرې په هیواد کې د وسلو ټولولو بهیر تند شي او پای ته ورسیږي او د وسله سالارانو واکونه او ګوابنونه پای ته ورسیږي ورسره به د امن فضا هم واکمنه ئی هله به د افغانان زړه په خپل هیواد کې ولګیږي.

زما آس د خان کړه وتړئ

سمراب دیدار

د ټولنې په تاریخي بهیر کې شوي.

د لوړو ژورو راتګ د ظالم او مظلوم ترمنځ نښتې ټولنیز فسادونه ظلمونه او ناروا‌وی او په مقابل کې د مظلوم مبارزې او ټول سیاسي او جنګي کشمکشونه د تاریخ پانې جوړوی او زموږ ټولنه هم د تاریخ له داسې پانو څخه بې برخې شوی نه ده. زموږ د تاریخ په اوږده او سپیڅلې بهیر کې د مغلو د وخت شیبې زموږ د تایخ یو تریخ باب جوړوي.

د تاریخ په هماغو شیبو کې په ولسي خلکو باندې د خپلې واکمنۍ د منلو په خاطر له هیڅ راز ظلم او ناروا‌وو څخه واکمنو لاس نه و نیولی. هغه په زور د واکمنۍ دوره وه ولسي قوانین تر پښو لاندې لیدل، ظلم، ناروا، د خلکو په اولادونو او ناموس تیری کول د جنګ او جګړو لپاره بریدونه د خلکو د جونګړو ورانول او د ټولو ناروا‌وو په کولو سره د خلکو په سترګو کې ورننوتل او تش په نامه خلکو ته د خدمت ټټر وهل دا هر څه د هغه وخت ځانګړتیاوی وی چې د تاریخ ترخې لیکنې تري جوړې شوي وای چې زموږ په بهر کې مهاجر هیوادوال هم د هیواد غیړې ته راستانه شوی وای. د ایران د بم په ښار کې زموږ میشت هیوادوال به هم راغلی وای د کومو چې ۱۶۰۰ تنه د زلزلې په ټکان کې مړه شول او ۴۰۰ تنه یې ټپیان شول همدا اوس څه د پاسه ۲۸۰تنه افغانان د ناورو د جمهوریت په یوه کمپ کې چې له استرالیا څخه ۲۱۰۰Km لیرې دی استرالیا ته د پناه غوښتنې او تګ په جرم توقیف شوی دی چې ۴۰ تنو یې د غذا د نه خوړلو اعتصاب کړی وخپلې شونډې یې ګنډلې وی او صحي حالت یې د

د هغې وخت په شرایطو کې هماغو ظالمو واکمنو د خپلې واکمنۍ د پراخولو په خاطر د اسلام له سپیڅلي دین څخه د وسلې په توګه کار واخیست او ویل به یې چې څوك د پاچا د امر مخالفت کوي هغه باغي دی او د وژلو وړ‌دی. هغوی په خورو ورو اولسونو کې ډیر کسان په همدی توګه د ځان ملګری کړي وو او پدی توګه یې د حق او حقیقت غږ د ځینو په ستونې کې چپ کړی و او ذ وحدت الشهود د تصوفي طریقې پیروان یې د ځان ملګری کړي وو چې په مشرۍ کې یې سید علي ترمیذي و چې په پیر بابا باندې مشهور و. بایزید روښان خو ملامت نه و چې یو شمیر مغل یې په یو کلي کې ولیدل، چې دیوی پښتنۍ پیغلې ویښته یې پر ژرنده کې د ژرندې په تیږه باندې د لرګي په نل پورې د خپلو ویښتانو پواسط ترلې وه د ژرندې پل به کرار کراره تاویدو پیغلې به چیغې وهلې او ژړل به یې.

او هغوی به ورته خندل.

ځکه خو د بایزید روښان په فکر کې یو څه بدلون راغی د مریدۍ په لاره په تصوفي طریقه روان شو او کله چې د پیرۍ مقام ته ورسید او په ټولو سیمو کې یې د مریدانو شمیر زیات شو د وحدت الوجود طریقه په خپل اوج کې شوه یو دم په سیاسي مبارزه ورګډ شو او دا غږ یې په لوړ اواز پورته کړ چې د مغلو د واکمنۍ پرضد جهاد روا دی او دا هغه لاره وه چې د بایزید روښان ټولې کورنۍ پرې تګ وکړو او په همدی کورنۍ کې د الایی په څیر میرمن هم د مبارزې په ډګر کې ورګډه شوه چې نن تاریخ پرې ویاړي او تر هغه وروسته خوشال خان هم د بایزید روښان په څیر د ژوند تر پایه د مغلو په مقابل کې د مبارزې بیرغ اوچت وساتلو او په لوړ اواز یې له ویرې پرته وویل چې:

یا تیولی مخ مکی ته یا مغولو سره رزم
د مغلو ظلمونه ددی سیمې ټولو خلکو او هرې کورنۍ ته ټکانونه ورکړل

ان چې رحمان بابا چې د خپل وخت یو تصوفي او د هرې اړخیزې مطالعې څښتن شاعر او تر خوشال وروسته د ټولنیز او اقتصادي دریځ هم کم و د ټولنیزې نابرابرۍ او ظلمونو په مقابل کې چپ نه شو او وي ویل:

په سبب د ظالمانو حاکمانو
کور او ګور او پیښور دری واړه یو دي
او دا هغه زمانه وه چې د لوی مغلي واکمن زوی اورنګ زیب د سیمو واکمنۍ په لاس کې اخیستې وه.

د تاریخ په اوږدو کې له یوی خوا ظالمانه واکمنۍ رامنځته شوی دی او له بلی خوا په همدی اوږده بهیر کې ان چې د مړو نخاوی هم لیدل شوی د خلکو په سرونو میخونه ټك وهل شوي د خپلو ګټو په خاطر یې د خلکو په ملکیتونو خیټې اچولې او له خوږ و غیړو څخه یې خواږه بچي اوچت کړې پدې ټولو ناخوالو سربیره د ابادو ابادیو د ورانولو په ځای د زور بنسټونه هم درول شوي خو ددې ټولو په وړاندې د مظلومانو د حق اواز هیڅکله هم نه دی چپ شوی دا د تاریخ جبر دی چې د ظلمونو په وړاندې به د بیایزید روښان، خوشال الایی او ملالۍ، ملالۍ جویا په څیر ډیر ځوانان او پیغلې راپورته شي او خپل غږ به د حق او عدالت په خاطر اوچت کړي د ظالمانو او ملي خیانت کارانو په وړاندې کړي به د عدل او عدالت ډګر ته د ذهنونو د راکشولو دنده سرته ورسوی او د حق دغه اواز به په ټولو کلیو او باندو کې د هرې بې وزلې او غریب غوږونو ته ورسیږي او ددی غږ په اوریدو سره به یې ویښته ودریږي ټکان به وخوري او د خپل وطن پرونۍ توري شیبې او څیرې به ورته په مخ کې نیغې ودریږي او هره یوه صحنه به د سینما د پردې په څیر د هغه په ذهن کې په ځغلنده توګه تیره شي او د هغه چا په وړاندې به یې نوره هم کرکه راپورته او زیاته شي چې وایي: زما آس د خان کړه وتړئ.

منصدی صفحه زحل

زنده گی در هنر

د کبټ مایر لیکه
دمحمد امین مدقق زیارې

آزاد خبریالان

رجب د تونس د همامت د ښار په خنډوکی د حاجی نور د کور څوکیداری کوله. هغه دا یوه دنده بلله خکه هلته د تونس په ختیځو خنډو کې د مدیترانه یې د سمندر سړی هوا د دوبی ګرمو څپو ته ښه خواب ورکاوه. په ژمی کې که څه هم زیات باران اوریده خو بیا هم ډیره یخنی نه وه خکه نو داسی موسم د هغه زړو هډوکو ته د سبا له باده کم نه و. رجب که څه هم د پوخ عمر سړی و خو دا ددی دلیل نشو کیدای چې هغه دی د یو څوکیدار په توګه له خپل مسئولیت نه بی خبره وی او خ ن دی د نورو بوډاګانو په څیر هوسا او ارامه کړي. هو. دی باید ویښ او څك وی او هر لوری ته یی پوره پام وی. خکه نو هغه به له خپل ملګری جلال سره چې د یوه تجار مونسیور کولیتی په کور یی څوکی کوله د ورځی یوازی یوه د کرمبول لوبه کوله. کونیتی به تل په کور نه و او په خپلی سوداګری پسی به ورك و. د جوزا میاشت وه. ماسپښین مهال رجب د انخر د ونی سوری ته ناست و چې جلال د خپلی څوکی نه پری غږ وکړ:

لوبی ته تیاریی؟ رجب یی له خندې خواب ورکړ "هو! تخته راوړه".

جلال تخته راوړه او دواړه څوکیداران د کرمبول دوو غاړو ته کیناستل او لوبه یی پیل کړه. لږه خندې وروسته جلال ناڅاپه په څه کار پسی ولاړ او رجب تخته او دانی برابری کړی او په ترتیب سره یی د تختی په مینځ کې کینبودی.

لږ خندې وروسته جلال بیرته راوګرځید او د وچی ډوډی یوه اوړده توکړه او څه شین مرچ یی له خانه سره راوړل.

رجب لومړی شارټ وواهه او جلال هم پداسی حال کې چې د لوبی په ترڅ کې یی له وچی ډوډی نه یوه یوه نمړی کوله په خپل وار لوبی ته دوام ورکړ. لوبه روانه وه، جلال وپوښتل:

هغه بله شپه دی ولیدل چې نوی ګاونډیان راغلل؟

رجب: ګومان کوم د چهارشنبې شپه وه؟

جلال: هو د الجلیزې مانی ته چا کډه راوړه.

الجلیزه د مونسیور کولیتی له کور سره نږدی یوه مانی وه چې د ډیری مودی راهیسی خالی پرته وه. جلال بیا په لوبه کې خپل وار وکړ او وی ویل:

هغه بله شپه د دریو بجو په شاوخوا کې ما څه غږ نه اوریدل او له کوره راووتم. کتل می چې دوه تور موټر ودریدل او څه کسان تری پلی شول او بیا د الجلیزې د سټری دروازې په لور ولاړل. صرف همدومره می لیدلی او تر هغې وروسته می بیا هیڅ ونه لیدل.

ښایی دا به غټ خلك وو خکه یو موټر یی یو عصری مرسیدیس بنز و تا ولیدل؟ (جلال وپوښتل)

رجب: نه د شپی په هغه مهال زما ورته پام نه شو خو دا کومه بده پیښه نده، کیدای شي خوك مهم سړی وی یا کومه مهمه کورنۍ وی. جلال خپل شارټ وکړ او د مقابل لوری یوه دانه یی له تختی نه وویستله. رجب هم ورغبرګه کړه. هو کم له کمه ښه ارام او مؤدبه ګاونډیان دی او کومه شریسنده کورنۍ نده. دا دخدای (ج) فضل دی.

دوی لاپه لوبه اخته وو چې د الجلیزی مخی ته څلور موټر ودریدل. دوه یی واړه فلاینګ کوچونه او دوه نور یی توری کرولا موټری وي. موټر ډیر ګرځندی زاغلل او د الجلیزی د سپین دیوال تر څنګه یې داسی کلك بریك ونیو چې د بریکونو کریغی یی تر ډیره خایه واوریدل شوي. له موټرو نه یوه ډله خلك نارینه او ښځی راښکته شوي چې تونسی نه وو او نه ورایه ښکاریدل چې بهرنیان دی. ددغو خلکو په لاسونو کې ۳۵ ملی متری تلویزیونی کامری، د عکاسی کامری، کتابچې او ان له یوه سره یی یوه سپکه زینه هم وه. هغوی د الجلیزی د سټری شنی دروازی په مخکی راټول شول. کامری عیاری شوی او د فلمبرداری ترتیبات ونیول شول. څلور نارینه او یوه ښځه د نورو په مخکی ودریدل او په میکرافون کې یې په بیړه څه وویل بیا د کامرو مخصوص څراغونه بیرته مړه شول او د ډلی څو غړو ښه په زور سره د الجلیزی د دروازی د زنګ په وهلو پیل وکړ.

خو د دیوالونو ترشا هیڅ اثار نه لیدل کیدل او که دننه څوك وو هم ښایی چې نه یې غوښتل دغو میلمنو ته هرکلی ووایی.

وروسته بیا هغه سړی چې زینه ورسره وه خپله زینه د دیوال ترڅنګ کینبوده او پاس وروخت. د دیوال پرسر ولاړ سړی له خپل ملګری نه تلویزیونی کامره واخیسته، په ډیره یی کینبوده او د حویلی د انګړ په فعلبرداری یی پیل وکړ. بیا یې په زوره زوره د الجلیزی د مانۍ د هستوګنځی په لور چې دوه دروازی یې درلودلی چیغی کړې. خو بیا هم له مقابل لوری نه هیڅ خواب رانغې.

رجب او جلال اوس په حیرانتیا سره دا تنداره کتله او خپله د کرمبول لوبه یې پوره هیره شوی وه. دغه ډله لا د الجلیزی د عمومی دروازی په مخ کې په شورماشور او زنګ وهلو بوخته وه چې د پولیسو دوه موټر راورسیدل او څلور امنیتی مامورین چې رسمی یونیفورم یی په خان و تری راکوز شول. رجب او جلال د سړك د هغه بلی څنډی نه لیدل چې پولیسو ددغی ډلی له غړو نه غوښتنه کوله چې له دغه شخصی کور نه یو څه لری ودریږی او هغوی دا هم لیدل چې ددغی ډلی غړی څه تهولنیز حرکات کوي او شعارونه ورکوي او یا چیغی وهي خو دغه دواړه تونسی څوکیداران پری نه پوهیدل. یو پولیس د هغه سړی په لوری ولاړ چې د زینی په مرسته په دیوال ختلی و، له کمیس نه یی ونیو او له دیواله یی راښکته کړ. د ډلی یو غړی د پولیسو خبرداری په پام کې ونه نیو او د دیوال د څنډی په لور یی منډه کړه پولیس هم ورپسی منډه کړه او سړی هماغسی ورك شو. نوربیا

بیست دوومین جشنواره فلم فجر

بیست و دومین جشنواره فلم فجر افتتاح و کار خود را آغاز کرد.

بیست و دومین جشنواره تیاتر فجر نیز از سوم ماه دلو آغاز شد و در سیزدهم دلو با اهدای جوایز به برگزیدگان این جشنواره به کار خود پایان داد. جشنواره موسیقی هم از شانزدهم دلو آغاز شد.

امسال تعداد سینماهای نمایش دهنده فلم در تهران به نزده سالون افزایش یافته است و برای نخستین بار در مراکز شهرهای مازندران، فارس، هرمزگان، خراسان و جزیره کیش ۳۹ فلم ایرانی و ۳۶ فلم خارجی جشنواره همزمان با تهران نمایش داده می شود.

در اواخر ماه جدی هیئت دولت ایران با پرداخت سه صد میلیون تومان برای برگزاری جشنواره موافقت کرد. این مبلغ به تهیه کنندگانی که در طول جشنواره فلم هایشان در شهر ها نمایش داده خواهد شد، تعلق می گیرد. برای هر نوبت نمایش، یک میلیون تومان.

در جشنواره امسال تعداد جوایز بخش مسابقه ایران افزایش یافته است.

در بخش مسابقه سینمای ایران تعداد فلم های شرکت کننده امسال با ۵۰ درصد افزایش به سی فلم رسید. قرار است ۱۰ فلمی که در مسابقه پذیرفته نشدند در بخش مهمان نمایش داده شوند. در کمال تعجب فلم های ملاقات با طوطی کار علی رضا داوود نژاد که گفته می شود احتمالاً پرفروش ترین فلم سال خواهد شد و چند تارمو ساخته ایرج کریمی در میان این ده فلم قرار دارد.

در مسابقه فلم های اول و دوم ۱۸ فلم و در مستند اول و دوم ۵ فلم، در بخش مسابقه فلم کوتاه داستانی اول و دوم ۵ فلم نمایش داده شد. در بخش مسابقه بین المللی ۲۲ فلم حضور دارد که چهار فلم ایرانی دوئل، مزرعه پدری، گاو خونی و عاشق مترسک در این بخش هستند. بر مبنای قوانین جشنواره هر کشور می تواند با دو فلم در مسابقه شرکت کند و کشور میزبان استثنائاً می تواند سه فلم را برای شرکت در مسابقه بین المللی معرفی کند. حالا اینکه چرا امسال چهار فلم معرفی شده و آیا همه این فلم ها آن قدر خوبند که نمی شود از یکی از آنها گذشت و... را نمی دانیم.

با توجه به محدودیت هایی که در جمهوری اسلامی ایران برای نمایش فلم های خارجی وجود دارد، معلوم نیست چه نیاز و الزامی برای حضور بخش سینمای بین المللی در جشنواره فجر وجود دارد.

در جشنواره امسال ۱۴۰ مهمان خارجی از مسوولان یا نمایندگان جشنواره های مونترال، کارلووی واری، شیکاگو، هامبورگ، مسکو، کن، قاهره، و... حضور داشتند.

در جشنواره تیاتر امسال ۶۱ نمایش در بخش مسابقه، ۸ نمایش در بخش بین الملل، ۱۳ نمایش در بخش خارج از مسابقه، و ۱۱ نمایش در بخش مرور حضور داشتند.

این جشنواره با اجرای نمایش در سالون تازه تأسیس ایرانشهر با رهبری آتیلا پسیانی آغاز شد. نمایش ها به مدت ده روز در سالون تیاترشهر، تالارهای مولوی، هنر و سنگلج به روی صحنه رفتند.

در مرحله بازبینی و انتخاب نمایش برای شرکت در جشنواره اعتراض های از جانب هنرمندان به نحوه گزینش صورت گرفت و رضا کیانیان و گروهش به عنوان اعتراض در جشنواره شرکت نکردند.

در جشنواره تیاتر امسال شبنم طلوعی، پانته آبهرام و فرحناز زادیانی به ترتیب به عنوان نفرات اول تا سوم بهترین بازیگر زن و پیام دهکردی، فرزین صابونی و سیروس کهوری نژاد به عنوان بهترین بازیگران مرد برگزیده شدند.

جوایز گلدن گلوب در لاس انجلس اهدا شد

اسامه جایزه بهترین فلم خارجی را نصیب شد

در برنامه اهدای جوایز توپ طلایی، گلدن گلوب، که روز یکشنبه، بیست و پنجم جنوری، طی مراسمی در شهر لاس انجلس برگزار شد فلم 'بازگشت پادشاه'، آخرین قسمت از آثار سه گانه 'ارباب حلقه ها' برنده اصلی بود. همچنین یک فلم افغانی برنده جایزه بهترین فلم خارجی شد.

بازگشت پادشاه گوی سبقت را از فلم های رود مرموز، گمشده در ترجمه، ناخدا و سکاندار و کوهستان سرد ربود و در مجموع چهار جایزه از جمله بهترین فلم و بهترین کارگردان (پیتر جکسن) را نصیب خود ساخت.

همچنین جایزه بهترین فلم خارجی نصیب فلم افغانی اسامه به کارگردانی صدیق برمک شد.

موضوع این فلم تقلاهای یک دختربچه دوازده ساله افغان در دوره حکومت طالبان است که برای یافتن کار در کابل در لباس پسرانه ظاهر می شود.

این نخستین فلم بلند ساخته یک کارگردان افغان پس از سقوط طالبان است.

جایزه گلدن گلوب که توسط "اتحادیه مطبوعات خارجی هالیوود" اهدا می شود از شاخص های عمده پیش بینی جوایز اسکار است.

سریال کمیدی بریتانیایی اداره (The Office) و بازیگر اصلی آن ریکی گراویس از برندگان غیرمنتظره جوایز گلدن گلوب بودند.

فلم کمیدی گمشده در ترجمه برنده سه جایزه از جمله بهترین بازیگر کمیدی برای بازی در این فلم را دریافت کرد.

دایان کیتن به خاطر بازی در فلم کمیدی کسی باید کوتاه بیاید برنده جایزه بهترین هنرپیشه زن شد.

نقش آفرینی شون پن به عنوان یک پدر انتقامجو در

جایزه گلدن گلوب که توسط "اتحادیه مطبوعات خارجی هالیوود" اهدا می شود از شاخص های عمده پیش بینی جوایز اسکار است.

بهترین فلمنامه (سوفیا کاپولا) و همچنین جایزه بهترین اثر موزیکال/کمیدی شد. بیل موری نیز جایزه بهترین بازیگر مرد در بخش فلم های دراماتیک را نصیب او ساخت. وی از جود لا رود مرموز جایزه بهترین بازیگر مرد در بخش فلم های دراماتیک را نصیب او ساخت. وی از جود لا (کوهستان سرد) و تام کروز (آخرین سامورای) پیشی گرفت.

شارلیز ترون به خاطر بازی در نقش آیلین وورنوس، یک قاتل زنجیزه ای، برنده جایزه بهترین بازیگر زن شد.

خانم ترون با رقابت نیکول کیدمن (کوهستان سرد) و اسکارلت یوهانسون (دختری با گوشواره های مروارید) روبرو بود.

رنه زلوگر به خاطر بازی در فلم کوهستان سرد در نقش یک دختر سرسخت روستایی جایزه بهترین هنرپیشه نقش دوم زن را دریافت کرد.

کوهستان سرد در مجموع در ۸ رشته نامزد شده بود اما تنها یک جایزه دریافت کرد.

همچنین تیم رابینز به خاطر بازی در رود مرموز جایزه بهترین بازیگر نقش دوم مرد را از آن خود ساخت

نوزاد دوسرپس از جراحی جان باخت

نوزاد دوسری که جراحان در جمهوری دومینیکن در امریکای جنوبی سر دوم او را طی یک عمل جراحی بی سابقه جدا کرده بودند، ساعاتی پس از عمل جراحی درگذشت.

ریکا مارتینز، یک دختر نوزاد، هفته پیش با یک سر اضافی که از ناحیه جمجمه به سر اصلی وی متصل بود، متولد شد و داکترانی از امریکا و جمهوری دومینیکن امکان جداکردن این سر اضافی را مورد بررسی قرار دادند.

این سر اضافی دارای گوش و چشم بود و لب ها نیز در آن تقریبا شکل گرفته بودند.

به گفته داکتران، این زایده بخشی از جنین ذوگانه ریکا بود که در جریان رشد جنین ها در داخل رحم تنها به شکلی ناقص و به عنوان بخشی از بدن نوزاد تکامل یافته بود.

گروه جراحان، متشکل از داکترانی که از ایالت کلیفورنیا، امریکا، به دومینیکن اعزام شده بودند، عمل پیچیده جدا کردن سر اضافی را انجام دادند که یازده ساعت به طول انجامید.

سخنگوی سازمان خیریه "درمان بین المللی مایک شواگر"، که مصارف اجرای این عمل جراحی را برعهده گرفته، صبح شنبه توصیف کرده بود و گفته بود که این دختر نوزاد خواهد توانست به زندگی عادی خود ادامه دهد.

تاکنون تنها هشت مورد نوزاد دو سر در سرتاسر جهان گزارش شده است.

هفت نوزاد دیگر همه قبل از تولد در رحم تلف شده بودند و مرده به دنیا آمدند

مساعی ملل متحد برای بازگشت بیجا شدگان به ساحات شمال غرب

فلیپ گراندی آمر عمومی اداره ملل متحد برای مهاجرین امروز رهسپار میمنه میشود تا رهبران ولایات شمال افغانستان را تشویق به تسریع بازگشت ده ها هزار نفر از بیجاشدگان یعنی کسانی نماید که در آواخر سال ۲۰۰۱ آغاز به ترک محلات زندگی شان در آن ساحات شدند. گراندی قسمت اول ماموریت خود را دیروز از مزار شریف آغاز کرد که در آنجا با رهبران محلی، مقامات ولایتی وزارت مهاجرین وعودت کنندگان، قوماندانان و متنفذین ملاقات های بعمل آورد.

بخش دیگر ماموریت گراندی اینست که با مقامات جنبش ملاقات وموضوع بازگشت کنندگان را با آنها مطرح نماید.

در جریان سفرش به فاریاب، گراندی وهکذا مقامات ولایتی وزارت مهاجرین وعودت کنندگان در نظر دارند از شیرین تگاب بازدید بعمل آورند که قسمت عمده بیجاشدگان از آنجا برخواسته اند.

این اقدام گراندی زمینه آنرا مساعد خواهد ساخت که عده یی از نمایندگان بیجاشدگان بتوانند از شمال افغانستان بازدید و طی آن بخاطر اسکان مجدد بیجا شدگان با رهبران محل، قوماندان، بازگشت کنندگان قبلاً اسکان یافته وافراد مربوط به اقلیت های ملی تبادل نظر بعمل آورد.

پیروزی دیگر کری در نامزدی ریاست جمهوری امریکا

جان کری، از داوطلبان گزینش به نامزدی حزب دموکرات در امریکا برای شرکت در انتخابات ریاست جمهوری آن کشور توانسته است در دو رای گیری مقدماتی دیگر به پیروزی دست یابد.

در دو رای گیری مقدماتی برای گزینش نامزد دموکرات ها، که با شرکت چند تن از داوطلبان دیگر در ایالت های واشنگتن و میشیگان برگزار شد، آقای کری توانست به حدود ۵۰ درصد آرا دست یابد در حالیکه هوارد دین، داوطلب دیگر، به مقام دوم رسید.

آقای دین گفته است که اگر نتواند در رای گیری مقدماتی ایالت ویسکانسین در روز ۱۷ فبروری به پیروزی برسد، از دور مبارزات مقدماتی خارج خواهد شد.



تاکنون سناتور جان کری توانسته است در ۱۱ رای گیری مقدماتی در سطح ایالتی و در میان اعضای حزب دموکرات در ۹ مورد بر سایر رقیبان خود غلبه کند.

آقای کری در سخنانی که پس از اعلام نتایج جدیدترین دور رای گیری ها ایراد کرد گفت که "روزهای حکومت جورج بوش به شمارش افتاده و تغییر در راه است."

در صورتی که وی بتواند در اکثر رای گیری های مقدماتی به پیروزی برسد، به عنوان نامزد حزب دموکرات در برابر جورج بوش، که تنها داوطلب نامزدی از سوی حزب جمهوریخواه است، وارد مبارزات انتخاباتی خواهد شد. انتخابات ریاست جمهوری امریکا در ماه نوامبر سال جاری برگزاری می شود.

مشکل همکرایی منطقه یی در آسیای میانه

یک مقام دولت امریکا که مشغول دیدار از تاجکستان است، گفته است هنوز هم برای توسعه همکاریهای اقتصادی و سیاسی میان کشورهای آسیای مرکزی مشکلات و موانع وجود دارد.

کارلوس پاسکال، هماهنگساز دولت امریکا در امور برنامه های کمک به کشورهای اروپا و آسیا ایجاد موانع مصنوعی در گذرگاههای مرزی میان کشورهای این منطقه را از مشکلات اصلی در همگرایی اقتصادی کشورهای آسیای مرکزی ارزیابی کرده است. وی گفته است کشورهای منطقه را الزام است در این زمینه اقدامات بیشتری را اتخاذ کنند.

کارلوس پاسکال، هماهنگساز برنامه های کمک امریکا به کشورهای اروپا و آسیا پس از دیدار با رئیس جمهور تاجکستان در گفتگو با خبرنگاران آمادگی کشورش را برای کمک در اجرای برنامه های اقتصادی و سیاسی تاجکستان، از جمله عضویت این کشور در سازمان جهانی تجارت، گسترش روندهای دموکراتیک و رعایت موازین بین المللی حقوق بشر و اصلاحات اقتصادی در تاجکستان اعلام کرد.

آقای پاسکال افزود دولت امریکا طرحهایی را برای مساعدت در زمینه کاهش میزان فقر و ایجاد اشتغال در تاجکستان روی دست گرفته و قصد دارد میزان کمکهای بشردوستانه و مالی به این کشور را افزایش بدهد.

این در حالی است که دولت امریکا تاجکستان را به فهرست ۶۳ کشور نیازمند به کمک برای توسعه شامل کرده است. امریکا در سال گذشته میلادی نیز به تاجکستان حدود ۱۰۰ میلیون دالر امریکایی کمکهای بشردوستانه و اقتصادی ارایه کرده بود.

کارلوس پاسکال شرکت تاجکستان در توافق نامه همکاری تجارتی و سرمایه گذاری را برای رفع موانع و مشکلات در همکاریهای منطقه ای مهم می داند. زیرا به گفته این مقام دولت امریکا هنوز هم برای همگرایی اقتصادی کشورهای آسیای مرکزی محدودیتهایی وجود دارند.

وی افزود: "در راه سفر به تاجکستان در شهر اوش قرقزستان ما نتیجه گیری کردیم که محدودیتهای مرزی برای رشد اقتصادی و تجارتی کشورهای منطقه آسیای مرکزی اخلال وارد می کند. ما معتقدیم که اگر تاجکستان، ازبکستان و قرقزستان برای رفع مشکلات مربوط به مسایل مرزی تلاش کنند، در آن صورت همکاریهای اقتصادی و تجارتی میان این کشورها گسترش پیدا کرده و سطح زندگی مردم منطقه بهبود خواهد یافت."

همچنین، آقای پاسکال تاکید کرد در جریان دیدار خود از تاشکند نیز موضوع رفع محدودیتهای مرزی را با مقامات بلندپایه ازبکستان بررسی خواهد کرد. زیرا به گفته کارشناسان در چند سال اخیر ایجاد موانع و محدودیت از سوی نهادهای دولتی ازبکستان در زمینه حمل و نقل کالا و مواد و رفت و آمد اتباع کشورهای همسایه بیشتر به مشاهده رسیده است. همچنین اختلاف نظر در زمینه استفاده از منابع آب، انرژی و جاده های ارتباطی میان کشورهای آسیای مرکزی از دیگر مشکلات موجود در منطقه تلقی شده است.

در همین حال، کارلوس پاسکال، هماهنگساز دولت امریکا در امور برنامه های کمک به کشورهای اروپا و آسیا یکسان کردن قوانین مربوط به کنترول منابع آب، انرژی، رفت و آمد و حمل و نقل کالا در جاده های ارتباطی را برای کشورهای منطقه آسیای مرکزی مهم خواند و اظهار داشت که امریکا اجرای طرحهای خاصی را برای مساعدت در رفع این مشکلات کشورهای منطقه در نظر دارد

خانواده های افغان در زیلاند جدید با هم ملحق شدند

روز چهار شنبه گذشته ۹ خانواده افغان که تعداد شان به ۵۲ نفر میرسید و مسکونین ولایت غزنی هستند با اقارب شان در آکلند محلق گردیده اجازه یافتند دوباره در آن کشور مسکن گزین شوند.

در آن جا آنها با کمک اداره بین المللی مهاجرت IOM با اقارب خود ملحق ومقامات زیلاند جدید برای شان موقف پناهندگی واسکان داد. این موقف را آنها پس از آن دریافت کردند که در سال ۲۰۰۱ روانه استرالیا بودند وتوسط یک کشتی نارویژی از غرق شدن نجات یافتند.

کارمندان IOM برای خانواده های این پناهندگان روز یکشنبه دریکی از دفاتر IOM درجنگلک درباره وضع زندگی در زیلاند جدید معلومات دادند. IOM همچنان آنهارا در تدارک اسناد سفر، ویزه و معاینات صحی معمول کمک کرد.

IOM در نظر دارد کمک مشابه رابه ۶۹ خانواده دیگر افغان انجام دهد که قرار است تحت برنامه سهمیه سالانه مهاجرت در آینده نزدیک به اقارب شان در زیلاند جدید بپیوندند.

نماینده سازمان ملل در افغانستان تعیین شد

کوفی عنان منشی عمومی موسسه ملل متحد ژان ارنویک تبعه فرانسوی را بحیث رئیس جدیدی نمایندگی ملل متحد در افغانستان تعیین کرده که جای لخضر براهیمی را می گیرد. ارنو بحیث معاون براهیمی و مسئول امور سیاسی ایفای وظیفه می کرد وی قبلاً بحیث نماینده ملل متحد در براندی و رئیس نمایندگی حقوق بشر ملل متحد در گواتیمالا کار می کرد. براهیمی که یک وزیر خارجه سابق الجزایر است اخیراً یک دوره دوساله را بحیث رئیس نمایندگی ملل متحد در افغانستان تکمیل کرده و وظیفه جدید را به عنوان مشاور سرمنشی ملل متحد بدوش گرفته است.

آی.او.ایم لوازم...

کسانیکه از این کمک ها استفاده می کنند آنهایی اند که توسط یک تیم مختلف از نمایندگان وزارت مهاجرین و عودت کنندگان وهمچنان وزارت احیا وانکشاف دهات و IOM مستحق مساعدت تشخیص شدند.

این خانواده ها مرکب از بیجا شدگان وهکذا کسانی اند که به تازگی به محلات شان بازگشته اند وتوان اعمار مجدد سرپناه خود راندارند.

تا حال جمعاً ۴۰۶۳ قلم لوازم زمستانی وکمپل توسط IOM برای چنین اشخاص توزیع گردیده وپول آنرا کشور جرمنی پرداخته است. اما هوای نامساعد ووضع خراب سرک ها در کار توزیع مواد امداد تأخیر وارد میکند. در ولایات بغلان، فاریاب، کندز و سمنگان نیز سروی های صورت گرفته است تا لوازم ومایحتاج چنین اقشار آسیب پذیر تشخیص گردد در ولایت بلخ سروی مشابهی تحت اجرا است.

شروع برنامه...

جنرال "محب الله محب"، معاون وزیر دفاع، که به هدف آغاز روند "خلع سلاح و ملکی سازی"، به شهر مزار شریف، سفر کرده است، در گردهمایی های در مقر قول اردوهای ۷ و ۸، وابسته به قوماندان عطا محمد، و جنرال عبدالرشید دوستم، به اهمیت جمع کردن سلاح از دست افراد مسلح در مناطق مختلف افغانستان پرداخت و تاکید کرد که اکنون شرایط کارآیی سلاح در کشور، به پایان رسیده است.

در نخستین روز آغاز برنامه "دی، دی، آر" در مزار شریف، یک صد شبه نظامیان دو نیروی رقیب، اسلحه خود را بر زمین گذاشتند و به کمیسیون جمع آوری سلاح که از سوی سازمان ملل متحد حمایه می شود، تحویل دادند.

"مایلوس کرسمانویچ"، مسوول جمع آوری سلاح و ملکی سازی ولایت بلخ در سازمان ملل متحد، گفت که برنامه آزمایشی دی، دی، آر که پس از کندز و گردیز، اکنون در مزار شریف شروع شده است، تا یک هفته دیگر ادامه خواهد داشت و هر روزه بیش از یک صد قبضه اسلحه از هر یک از قول اردو های شماره ۷ و ۸، جمع آوری خواهد شد.

آقای کرسمانویچ تاکید کرد که در نظر است طی این برنامه، دو هزار مرد مسلح از هر دو قول اردو رقیب خلع سلاح شوند.

وی تصریح کرد که به دنبال جمع آوری سلاح دو هزار شبه نظامی وابسته به قول اردو های ۷ و ۸، این افراد وارد زندگی عادی خواهند شد.

برنامه "خلع سلاح و ملکی سازی" یا دی، دی آر، مراحل آزمایشی را پشت سر می گذارد که قرار است در جریان آن، در سال بعد، یک صد هزار شبه نظامیان، خلع سلاح و وارد زندگی عادی شوند.

برنامه "دی، دی، آر"، که در شهر مزار شریف آغاز شد، جدا از برنامه "جمع آوری سلاح سنگین قول اردو های شماره ۷ و ۸" در ولایت بلخ است که هنوز هم جریان دارد و به گفته مقامات محلی موارد جمع آوری شده در اختیار اردوی ملی قرار گرفته است

وسله وال مسوولین...

اوس چې په هیواد کې نوی اساسی قانون تصویب شوی د خلکو غوښتنه له دولت څخه داده چې ددغه قانون د تطبیق په برخه کې لازمه څارنه وکړی او هغه مسوولین چې د هماغی سیمی له اوسیدونکو څخه په هغه سیمه کې د مسوولینو په توګه دندی سرته رسوی او خپل وسله وال کسان ورسره وي د قانون د تطبیق او خلکو ته د خپلو حقوقو د ورکړې په برخه کې قانونی اجراات سرته نشی رسولی پدی هکله باید د دولت نوی څارنه او بیا کتنه عملی خوا پیداکړی څو خلك وکړای شي د دموکراسی په ازاده فضا کې خپلې ورسپارل شوي دندی سرته ورسوی او خپل حقوق ترلاسه کړي او زموږ نوی اساسی قانون خپله تطبیقی بڼه راخپله کړي.

In This Issue:

1- Conflict Between Two Groups Ends In Badakhshan
2- UN Struggles For Displaced People In Western Afghanistan
3- Afghan Families Get Together In Newzealand
4- UN Delegation For Afghanistan Selected
5- Conference Of Donors To Afghanistan To Be Held Next Year
6- Nato Helps Drug Smugglers
7- Anti-Drug International Conference Continues Its Work
8- Disarmament Program Begins In Mazare-Sharif
9- Arts In Life

ارداده
زیر نظر هیات تحریر انتشار مییابد
مؤسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: ظهور افغان
روزنامه آزاد وملی نشریه مرکز نشرات افغان
اندیشه و عقاید مطرح شده از سوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوزودیزاین: صدیق الله "صادق" و عزیز الرحمن "گوهر"
چاپ: مطبعه مرکز نشرات افغان
قیمت یک شماره ۲ افغانی

ERADA Daily
ارداده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (سینمای بهارستان
سرک مسجد حاجی میر احمد) خانه نمبر ۹۵
تیلیفون موبایل: ۰۷۰۲۲۴۷۸۷
Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Zuhoor Afghan
Mobil Phone: 070224787
eradadaily@hotmail.com